آصف بهاند ۲۰۱۴/۰۱/۲۸

# لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

(دویمه برخه)

فیسبوک دې خلاص که څوانیمرګ شې — دا ځـلـوروړخـې انـتـظـاروﻻړه یمـه
وطن مې لویشت په لویشـت خـطرشـو — خـدای ناتـرسـوډیـرکـرلي دي ماینـونـه

په لنډیوکې د هرزمان د ژوندانه رازونه په هنرمندانه ډول ځای پرځای شوي دي، د هرزمان ټولنیزې اړیکې په کې په ماهرانه توګه انځورکړای شوي دي، په امانتدارۍ سره پیړۍ، پیړۍ ساتل شوي دي.کومې یې چې سینه په سینه تر اوسنیو زمانو پورې رارسیدلي دي؛ کولای شو چې له هغونه د تیرو وختونو د انسانانو د ژوند د ځینو هغو اړخونو په باب مهم او د لومړي لاس مالومات ترلاسه کړوچې په لنډۍ کې انځورشوي وي.
لنډۍ د هرډول فکر د نیلي د زغلولو میدان کیدای شي. د تأریخ په اوږدو کې، د لنډۍ په پراخه دښته اوشین بڼ کې، هرچا ځغاستلي دي، د هرډول فکر د خاوندانو بلبلان په کې چغیدلي دي او په دې پروسه کې لنډۍ هیڅ چاته او د هیڅ ډول فکر بیان ته یې نه، ویلي نه دي اوله خپل درګاه څخه یې نه دي شړلي.لغړې خبرې، ښکلا، مینه، هجران، وصال، ژوند، مرګ، ماته، بریا، پټې اوښکاره خبرې، فلسفي افکار او په پای کې هرڅه چې د لنډیو د ویونکو په عیني ژوندانه کې پیښ شوي، په لنډیو کې راښکاره شوي او تل پاتې شوي دي؛ خوحماسي تغزلي څپې له پیل نه ترپایه په کې غالبې وې او د لنډیو ډیره سلنه یې جوړه کړې ده.
له ټولوبندیزونو، مذهبي کربنو او نرخونو سره سره، هرچا، په تیره ښځو، خپل ټول احساسات د لنډیو د نازکوو زرونو په وسیله الوزولي دي او د زړه دسترخوان یې غوړولي دی، حتی عاشقانه او غریزوي مسایل یې هم نه دي پټ کړي اوپه براﻻ ډول یې بیان کړي دي.

ټینګه مې مه نیسه په غیږ کې — تي مې نازک دي سرنۍ بالغه یمه

د لنډیو شاعر، د هنري انځورجوړونې مواد د ژبې له هغه پاک طبیعت څخه راخلي چې دوی په کې ژوند کوي، د ژبې هغه طبیعت او د اوسیدلو هغه چاپیریال چې د لنډیو ویونکی ژوند په کې کړی دی؛ له همدغه چاپیریال څخه د لنډیو د اندامونو د جوړولو له پاره لومړني مواد راخوښیږي اوپه طبعي مینې سره په کې کارول کیږي؛ ځکه لنډۍ پاکه اوسپیڅلې وي.
د لنډیو د تخلیق حوزې، یوازینۍ هغه سیمې دي چې پښتنه میرمن په پوره اندازه آزادي په کې لري، هرڅه چې یې زړه غواړي، هغه وایي.حتی په هغې ټولنه کې چې نارینه په ټوله مانا په کې لومړۍ خبره اوحکم کوي، هم کولای شي د خپل زړه خبره وکړي.ویې غندي؛ داسې یې وغندي، لکه د ښمن چې پر دښمن وارکوي؛ ویې ستایي، داسې په ریښتیني ډول یې وستایي، لکه څنګه چې په عیني ډول یې ګوري.
په ښځینه لنډیو کې که له یوې خوا د نارینه وو په باب د ښځو ذوق له ورایه لیدل کیږي، له بلې خوا ټول هغه څه چې د نارینه وو د جلبولو موجب ګرځي، په ماهرانه ډول کارول شوي او انځور شوي دي، چې په یوازې اوریدلو یا لوستلو سره د نارینه په وجود کې مینه او جذبه پیدا کوي او ډیر ځلې د نارینه د دودیز۔ قبیلوي حاکمیت د ماتیدو سبب کیږي.
له لنډیو سره د نورو ملتونو او ژبو د فولکلوریکو اشعارو د ورته والي په باب څیړنې دا ښیي چې د روسانو«چستوشکې» د جاپانیانو«هایکو» او د اسپانویانو کانت جوندو(Cante,Jondo)؛له پښتولنډیو سره یوڅه اړخ لګوي،(۳)خو توپیرونه هم سره لري.د مثال له پاره پښتولنډۍ کله کله دروسي ژبې له چستوشکې سره پرتله شوې ده.د۱۹۹۹ کال په اوږدوکې استاد انورنومیالي په ماسکوکې د روسي ژبې د چستوشکوپه باب درنه علمي مقاله ولیکله.په دې مقاله کې د لنډۍ او چستوشکې ورته والي او بیلوالي ته داسې اشاره شوې ده:
« یو وخت اروا ښاد دوست شینواري – چې د روسي ژبې له ادبیاتو سره یې شناخت درلودئ. یوچیرې داسې ویلي و،چې د روسي «چستوښکه» د پښتوژبې د «لنډۍ» یا پیښورۍ اصطلاح «ټپې» د ژانرسره سمون خوري.خو اوس چې زه «چستوښکه» یا د هغې ژوندۍ ښکلا له نږدې څخه ننداره کوم، نویوشمیرداسې ځانګړتیاوې یې وینم، چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لنډۍ له ښکلاوو څخه توپیر لري اوپه دې حساب نو دغه دوه مستقل ادبي ژانرونه یوله بله سره پوره سرنه خوري»(۴)
که پښتو لنډیو ته ورته د نورو ژبو په بیلابیلو ورته ژانرونو کې مواد ترلاسه شي، بیخي جلا او په زړه پورې بحث به وي او جلا وخت اوڅیړني ته اړتیا لري؛ خوکه یي په بیلوالي پسي څوک څیړنه وکړي، د یادو فولکلوریکو شعرونو او لنډیو په منځ کې ډیرجوت توپیرونه هم شته، چې ښایي په څیړنه کې د لنډیو تله په کې درنه وخیژي.
په لنډ یوکې په سل ګونه او لاززګونه رنګارنګ موضوعات مینځلای شو.که یوازې د لنډۍ پرموضوع باندې کاروشي، ښایي په زرګونومخونه څیرنه پرې ولیکل شي. ډیرنه، یوازې د یو څو لنډیو له اوریدو یا لوستلونه وروسته د هرچا دې ته پام کیږي چې په لنډیو کې:

- انسان له انسان سره خبرې کوي،
- انسان له طبیعت سره خبرې کوي،
- انسان له ځان سره خبرې کوي،
- انسان له ځارویوسره خبرې کوي،

او...
د لنډیو هره برخه ځانته د څیرنې یوه په زړه پورې موضوع کیدای شي.د مثال له پاره یو واري ولیدل شول چې د ماسکو د مهاجرت په ستونزمن چاپیریال کې د یو زیارکښ فرهنګي دوست ښاغلي طاهرکاڼي، د لنډیو هغې برخې ته پام شوچې انسان له ځارویو سره غږیږي. کاڼی یوه مقاله ولیکله اوعنوان یې ورته داسې وټاکه:«په پښتو لنډیو کې د حیواناتو په هکله څرګندونې» مقاله په زړه پورې ده، چې له ماسکونه خپریدونکې «امروز» مجلې په دویمه پرله پسې ګڼې په ۲۵ او ۲۶مخونو کې خپره شوې ده.(۵)

له لیونو سپو نه راتیرشه　　　　په خونړو چړو به زه در وخیژمه

په لنډیو کې د ځارویو د نومونو راوړل، انځورول اوله هغوسره غږیدل د دې له پاره هم په زړه پورې دي چې ځاروي د کلیوالي انسانانو په ژوند کې ځانګړی ځای او رول لري.داسې هم شوي چې یو بزګر کله خپل ځاروي ته په قهرشي او کله یې بیا نازوي.دې مثال ته پام وکړئ:کله چې یو غوایی ډیر چاق شي، کولبه سمه ونه کړي، نوبزګرپه ډیرقهرسره ورته وایي:

کوناټوره خوښ مې نه شوې　　　　سبا دې بیایم په ډنګر دې بدلومه

او یا هم کله چې دوه مینان سره یوازې شي او د هلک له وسه هیڅ نه وي پوره، نو مسته چته پیغله یې له یوه ټنبل ځاروي سره داسې پرتله کوي:

سپینه سینه درته پرته یم　　　　د منډیرسخوندره خوب دې زنګوینه

لنډۍ په ټولوپښتني سیموکې ګډ شعري ژانر دی او د کندهارې، لوګرې، مشرقي او ټولو سازیانو په خولوکې یوشانتې زمزمه کیږي او د محلي سندرو یوه غوره برخه جوړوي چې پرته له لنډیو، یادې سندرې نابشپړه ښکاري.
د لنډیو په ښکلاوو کې یوه ځانګړنه دا ده چې د خلکوله خوا، د دوی په ژبه ویل کیږي او داسې عام فهمه ژانر دی چې جذابیت یې په ساده ګی کې دی.د خلکو د زړه خبرې، سپیني یا بې پردې خبرې؛ د داسې ښکلو تورو په قالب کې سره نغښتل کیږي، چې په زړه منګولې لګوي.لایق وایي:
« لنډۍ د عوامو ژبه کاروي او د خواصو د ادب قراردادي اصطلاحات، لکه:
زاهد، ناصح، محتسب، شیخ، خرابات اوداسې نورسولیدلي توکي نه کاروي او د پردیو قالبونو عاریت کول نه خوښوي. معنا د تکلف په زهرو نه لړي او مخاطب د الفاظو د سیرلو له پاره په قاموسونو پسې نه ځغلوي، بلکې لاس نیولی یې د ګودر غاړې ته بیایي او د کلي کیږدۍ له رښتیاني طبیعت سره یې آشنا کوي. په سحرونو، ماښامونو، ټکنده غرمو او ستورو پوښل شویو شپو کې یې ډوبوي، د زمان پراخه لمن کې د لیوال اوپلټونکي انسان د غوښتنواو پلټنو غوټه ورته پرانیزي له مینو او ماتوسره یې آشنا کوي او د ژوند په بې تکراره واټ کې، د مینې، لیوالتیا او بیلتون سندره ورته بولي.»(۶،څوارلسم مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په پښتو فولکلور کې دا يوعام اومنل شوی اصل دی چې لنډۍ د اولس مال دی، نه د شخص.بايد ځانته څوک دا حق ورنه کړي چې لنډۍ په خپل نامه ونوموي او يايې د خپلو لنډيو په نامه چاپ کړي.که څوک دا کار وکړي، نوبه يې اصيل فولکلورته صدمه رسولې وي.
ښاغلی لايق د افغانستان د علومو اکاډيمۍ په نشراتي ارګان کابل مجلې د۱۳۸۶ هجري شمسي کال په ۱- ۲ ګڼه کې،«د لنډيو مسخ کوونکي» ترسرليک لاندې په زړه پورې بحث کړی دی اودا يې په ښه کړي دي چې، که لنډۍ څوک په ځان پورې منسوبې کړي، نواصيل فولکلورته به يې ډير تاوان رسولی وي او دايې هم ښوولي دي چې دتأريخ په اوږدو کې چا اوچا دا کارکړی دی. دی د خپل بحث په ترڅ کې داسې وايي:
«... هغه کسان چې د ولسي لنډيو د ثبتولو او د هغو د فکراوفورم د غلا کولو او مسخ کولو له لارې د خپلوځانګړيو مجموعې او ديوانونه خپروي، د اسطورو او فولکلورونو په مسخ کوونکو او ادبي جعلکارانو کې شميرل کيږي.په وروستيو کلونو کې چې لنډيو مقبوليت پيدا کړی دی او د نړيوالو پاملرنه يې ځانته را اړولې ده، له دې سره غبرګ دا ستونزه هم رامنځ ته شوې ده چې ځينې ښاغلي د ځاني لنډيو هستونو او چاپولو ته هڅيدلي دي. ځينې خولا د پښتني فرهنګ ودې ته د خدمت په نيت داسې هم کوي چې خپلې ليکلې لنډۍ له ولس څخه د راټولوشويو لنډيو سره په مخلوط توګه اوبې تفکيکه چاپ ته رسوي اوخپروي يې ...»(۶،لومړی مخ)
دغه کار د لايق له نظره «په رڼه رڼا ورځ غلا کول او د تأريخ مسخ کول دي» او هغو کسانوچې دا کارکړی دی، لايق په خپله ليکنه کې، يو په يو ښودلي دي.هغه کسان دا دي:

۱. په ۱۹۷۷م کال کې د پېښور پوهنتون پښتو اکاډيمۍ، د محمد ادريس صاحبزاده د ليکلو لنډيو مجموعه د «ټپې او د شعور رود » تر نامه لاندې خپره کړه.د لنډيو دا جونګ ما(آصف بهاند) په کابل کې ليدلې وو، لوستلې مې هم و او په خپل شخصي کتابتون کې مې درلود، خوپه ياد مې نه دي چې څومره لنډۍ په کې خوندي شوې وې او اوس مې په اروپا کې د «قحط الکتاب» په تاريکه کې کله نه دی ترسترګوشوی.
۲. د لايق د ليکنې په استناد، د لنډيو بله دې ته ورته مجموعه «عوامي ټپې» نوميږي، چې ښاغلي سيد اکبرصابر خپره کړې ده.(۶،له لومړي مخ نه تر اوه لسم مخ پورې)
۳. دلنډيوبله ټولګه چې په دې لړکې معرفي شوې ده،دسيدا ګل غريبيارټولګه ده په ۱۹۹۷م کال کې په امريکا کې ټوله شوې،ټولې ۳۷۱۵ لنډۍ په کې چاپ شوې دي او ختيځ کلتوري ټولنې په پيښورکې خپره کړې ده.د دغو دوو پورتنيو يادو قلموالو دغه هڅه لايق پښتوادب ته خدمت نه، بلکې د لنډيو د اصالت اوعلمي اعتبارته زيان بللی دی.(۶،دريم اوڅلورم مخونه)
٤. ډنمارکي محقق ينس اِنه فولدسين( Jens Enevoldsen ) د پښتولنډيو او متلونو يوجونګ، له انګليسي ژباړې سره، د«سپوږمۍ کرنګ وهه راخيژه» ترسرليک لاندې خپورکړ.په دغې ټولګې کې يوه مقدمه، سل لنډۍ، سل متلونه، شپږ انځورونه او په پای کې د نومونو يوفهرست راوړل شوی دی. دغه ټولګه مې چې په ډنمارک کې د لومړي ځل له پاره وليدله، نومې ژر فوتوکاپي کړه او اوس مې په واک کې ده.دغه ټولګه دوه ځلې چاپ شوې ده.لومړی ځل په ۱۹۶۹م کال او دويم ځل په ۲۰۰۰ م کال.(۷)

هغه څه چې لايق خپله مقاله (کابل مجله) کې طرح کړي دي(لنډۍ دې دولس له آزميني وروسته ثبت شي)دهغه په باب ځيرونکي څه وايي، که پرخپل ځای ودريږو او هرڅه په خپل حالت پريږدو چې لنډۍ مسخ نه شي، بيا د نويو لنډيو د ثبت مسأله څنګه کيږي؟
د لايق نظر داسې دی چې لنډۍ لومړی بايد دولسي نقد له ميچنې راوزي چې ډله ايزې لاسوهنې اوسمونې په کې وشي، د عامو خلکو له خوا ثبت شي؛ بيا نو ولسي سندرې ورته ويلای شو.(۶)
دا چې د لايق له دې طرحې سره نورځيرونکي څه وايي، زه نه پوهيږم، خوزه خپله په دې نظر يم چې اوس ژوند بدل شوی، هغو پخوانيو ټولنيزو اړيکو کې ژور بدلونونه راغلي دي.کور، کلی، طرز تفکر، د ژوند وسايل، ارتباطات او ... بدل شوي دي، او ورځ تربلې بدليږي پسې. که د لنډيو او نورو فولکلوري ژانرونو د ثبت څرنګوالی يا ليکل هم بدل شي، څنګه به وي؟ زه هم د دې نظرتينګ پلوي يم چې لنډۍ د يوه ټاکلي شخص مال نه، بلکې دټولو خلکو مال دی.که يې څوک خپله هم جوړه کړي، حق نه لري چې خپل نوم په لنډۍ پسې وليکي يا د لنډيو کومه ټولګه په خپل نامه چاپ اوخپره کړي؛ خوکه يې ثبتول همداسې پرېښودل شي، نو د هغو لنډيو سرنوشت به څنګه شي چې نه دي ثبت شوې؟
په هيواد کې دننه هم حالات بدل شوي، خو فرضاً وبه يې ګڼوچې په هيواد کې حالات هماغسې پرځای پاتې دي، خوله هيواده بهر داسې نه ده.له هيواد نه د باندې په زرګونو، لکونو حتی په ميليونونو افغانان د نړۍ په ګوټ ګوټ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کې خواره واره دي، د دغو خورو ورو افغانانو په منځ کې نه هغه اړیکې شته اونه هغه طرز تفکر، خوپښتانه او د لنډیو ویونکي او رامنځ ته کوونکي شته، لنډۍ تخلیقوي او د نوي چاپیریال او د هغو د خوښیو اوغمونو څرنګوالی په کې منعکسوي او... ما خپله په شخصي او رسمي محافلو کې په لسګونو داسې لنډۍ له پیغلو، ځوانانو اوسپین ږیرو نه اوریدلي دي چې ماته بیخي نوي اونا ثبت شوي برېښیدلي دي او د لنډیو هغه ثبت شوي اوچاپ شوي ټولګې چې زما له نظره تیرې شوې دي،ددغو لنډیو ځرک هم په کې نه لګیږي؛ د همدې اړتیا له مخې اړینه ده چې دا نوې تخلیق شوې لنډۍ ثبت اوخوندي شي او که ثبت نه شي له دې سره به څه ډول چلند کیږي؟
آیا د نویو لنډیو د نه ثبت د پالیسی له مخې به دغه په زرګونو نوې لنډۍ د نابودۍ له غمیزې سره مخ نه شي؟
او که دې پالیسی ته پریښودل شي چې لنډۍ دې وروسته له تخلیق نه باید له ولسي آزمون نه بریالی را ووزي، چاپ دې شي ، چې د ولس له خوا ومنل شوه بیا به یې کوم فولکولوریست ثبت کړي.
دلته دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې له افغانستان نه د باندې، حتی په ګاونډیو هیوادونو کې د افغانستان په څیر روابط نه شته اوځومره چې یوافغان مهاجرله وطن، کلي کور او نغري نه لرې کیږي، په هم هغه اندازه روابط او قوانین سره بدلیږي، هرڅه په بل ډول عیاریږي؛ او د دغو بدلونونو انعکاسات د یو انسان په ذهن کې بل ډول مسایل رامنځ ته کوي؛ نوهمداسې د لنډیو د تخلیق پروسه کې هم بدلونونه رامنځ ته کیږي او د اروپا په دې پرمخ تللي ټولنه کې کیدای شي د نوې تکنالوژۍ له بدلون سره ژوند داسې په ګړندي بدلون کې وي چې د لنډیو د چاپ د پروسې له پاره اصلاً څوک وخت هم ونه لري، نوکه لنډۍ له رامنځ ته کیدو سره سم ثبت شي ښه به وي.
کیدای شي له هیواد نه د باندې د افغانستان په څیرهغسې ولس اوهغسې ټولنه نه وي، چې ځینې د نظر خاوندان لنډۍ وروسته له تخلیق نه په کې د چاپ او آزمیښت له پاره ړدي.د مهاجرت په چاپیریال کې هغسې وطني ولس نه شته اونه هم داسې څوک چې دوی ته پاکه سوچه ژبه اوکلتور وروښیي چې د هغه کلتورپه چوکاټ کې دې لنډۍ تخلیق او چاپ شي او وروسته له هغه دې ثبت شي.
زه خو داسې وایم چې هر ډول لنډۍ چې چا اوریده، ثبتوي دې. یا له ځان سره، یا په کومه ویبپانه کې، یا په فیسبوک کې اویا هم د ایمیل له لارې دې له چا سره شریکه کړي او په دې ډول دې د کمپیوتر جال ته وسپاري.د خلکو او ټولنې له خوا یې د منل کیدو اونه منل کیدو مسأله بیا په رښتیا هم وخت ته اړتیا لري چې کومې اوڅومره یې دوخت په تیریدوسره منل کیږي او یا له خولو او قلم نه لویږي.
همدا اوس یې که قیاس کړو او اوسنی ژوندی نسل په دروو برخو وویشو، داسې به وي:

- له سني پلوه هغه نسل چې عمر یې له شپیتو یا اویاوو جګ دی، خدای مه کړه که دوی ته اجل دروازه وروټکوي، له هغو سره به شته زده کړې او تخلیق کړې نا ثبت شوې لنډۍ ضایع نه شي؟
- د شلو او شپیتو په منځ کې ځوان نسل چې تر اوسه یوڅه له ژبې او کلتورسره بلد دی، لنډۍ زده کولای، تخلیقولای او حافظې ته سپارلای شي، که دا هم د زمان تر میچنې لاندې د آزمیښت له پاره پریښودل شي اوثبت نه شي، بیا یې هم د ضایع کیدو خطر شته. له بلې خوا همدا ځوان نسل د نوي وخت له نویو بدلونونو سره ځان مجبوراً بدلوي، او که د دوی نوې تخلیق شوې لنډۍ هم ثبت نه شي، نوڅنګه به شي؟
- له دې نه وروسته راتلونکی نسل دلته د مهاجرت په چاپیریال کې دا دی زموږ ترسترګو وړاندې خپل هرڅه له لاسه ورکوي، له هغې ډلې نه مورنۍ ژبې ویل او لیکل.له دوی نه د لنډیو د تخلیق څه چې د یوې لنډۍ د یادولو تمه هم بیا نه شو کولای.

نوی نسل له نوې تکنالوژۍ او نویو بدلونو سره ځان ګړندی بدلوي او که یې بدل نه کړي په دې نوې او پردۍ ټولنه کې له نورو ستونزو سره مخامخ کیږي. له دوی نه د دې تمه چې له مشرانو نه لنډۍ یادې کړي او بیا دې د آزموینې له پاره وساتي، یوڅه له تصورنه لرې ښکاري.د همدغو دلایلو له مخې که تیر میراث چې ترموږ پورې رارسیدلای دی، چې یوه برخه یې همدا لنډۍ دي، ثبت اوخوندي نه شي، د بربادۍ له خطرسره مخامخ کیږي چې په ټول کې زموږ د فرهنګ اوتأریخ د یوې برخې پوښتا کیدل یې ګڼلای شو.
لایق په خپله مقاله کې ځوځایه وایي رفیع او هیوادمل، د فولکلور د ساحې د متخصصینو په توګه باید په جدي ډول د نویولنډۍ وجوړونکو مخه ونیسي، خو رفیع اوهیوادمل بیا استدلال کوي چې هرڅوک خپله باید پام وکړي، موږ چاته دستور نه شو ورکولای.(۸)
د رفیع اوهیوادمل د دې نظرپه څنګ کې لایق په سختګیرانه ډول وایي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

«له غلو او مسخ کوونکوڅخه د لنډیو د ژغورنې، ساتنې او توثیق ګټوره اواغیزمنه لاره دا ده چې د هغوی د راټولولو، فهرست او زیرمه کولو له پاره د فولکولور د خوندي کولو نړیواله طریقه وکارول شي او د هغې په موجب ټولې چاپ شوې او نا چاپ شوې لنډۍ له نوي سره دهمدې طریقې مطابق راټولې،ترتیب اوزیرمه شي»(۹)
دا په رښتیا یوعلمي نظر دی، خو په دغه اوسني تیت او پرک بحراني فرهنګي سیاسي حالت کې چې افغانان، په تیره پښتانه یې لري، څنګه کیدای شي دا علمي نظرتطبیق کړو.د چاپ شوو لنډیو د فهرست کولو زحمت خوبه یو څوک پرځان ومني، خو د نویو لنډیو د ثبت مسأله به څنګه کیږي؟ اوکه همداسې پرېښودل شي، لنډۍ خوموړته نه دریږي، تخلیقونکي یې هستوي، او د نه خوندي کولو په صورت کې لنډۍ خپله د خلکوله اذهانو تښتي، ورکیږي او د پناه باد یې له ځانه سره وړي؛ ښه خبره خو دا ده، چې هرڅوک هرچیرې چې دي، په هره طریقه چې وي، هر ډول لنډۍ چې اوري، باید ثبت اوخوندي یې کړي، څوله نابودۍ څخه وژغورل شي. کره کول، چاڼول، د هستونکي حالت، د هستولوچاپیریال او... به یې وروسته بیا څیړنکي معلوموي.
البته دا ډیره اړینه ده چې لنډۍ څنګه چې په ټولنه اوخلکو کې شته او څنګه چې تلفظ کیږي، هماغسې باید ثبت اوخوندي شي، د ثبت ا ولیکلوځای او وخت یې مالوم وي او د راوي او ثبتونکي په باره کې ډاډمن مالومات راټول شي. له دې مالوماتو پرته د راټولوشویو او چاپ شویو لنډیو اعتبار په علمي څیړنوکې ډاډمن نه وي.(۹،۷مخ)
زه دلته نه غواړم په دې پسې خبره اوږده کړم چې چا د لنډیو د تأریخ، تعریف محتوی او ثبتولو په باب سمه خبره کړې اوچا ناسمه.کوم کارچې تراوسه پورې د لنډیو په باب شوی دی، د لږو تیروتنو ترڅنګه ډیرعلمي ارزښت هم لري په تیره د لنډیو په باب د ښاغلي لایق څیړنې.
خو د دې ټولوخبروسره سره ټینګارکوم چې:
په اوسني کړکیچن حالت کې د لنډۍ د له منځه تلو د خطرد شته والي په خاطردې لنډۍ په هرځای اوهروخت کې چې وي، د خلکو او ټولنې د آزموینې د میچنې له تیریدو پرته دې ثبت شي.د آزمویلو کیسه به یې پریږدو خپله د لنډیو قوت، مهم والي، منځپانګې اوښکلایزوځانګړنوته.

پورې لیلا ګوره چې مونځ کړي قبول یې مه کړې تور اوربل پرخاورو ږدینه

پـر کـابـل بیا راکټ را اوري د آسـمایـي لـــه ډډو وخـتـل دودونـــه

د دویمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ